# افغانستان آزاد ـــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



انجنیر سید عبدالقادر


۱۴ ـ ۲ ـــ ۲۰۱۰

**افغان ولس پر مارجه باندي يرغل محکومه وي !**

## دمارجي او نادعلی غريبو ولسونو ته

## دصلح دجايزي وړونکي له خواه تحفه !

دمارجی پر ماشومانو ، ښځو ، زړو او ځوانانو باندي دشنبي په شپه دشپي پر دوو بجو په داسي وخت کي چه دوي ټوله دژمي په سړه او اوږده شپه کي په خپلوغريبانه کورونو کي په خوږو خوبونو کي غرق پراته وه ،اودي خواږه خوبونو ددوي څخه ددبنمن هر څه هير کړي او ما شومانويي هم دخپلو وړو اوتږو ميندو په غيږونو کي بياهم دآرامي او خوشحالي احساس کاوه ، داځکه چه دوي لاتر دي وخته دبشريت دوينو تږي په خپلو سترګو نه وه ليدلي ، ځکه ددوي ماشوم توب د دوي څخه دا توان اخستي وو، چه دوي خپل دولس دبنمنان درک او وي پيژني . ځکه نود دوي افکار دآرامي په بله دنيا کي ګرځيدل ، ولي په هم دې وخت کښي په نا څاپه ډول دخپلو تاريخي دښمنانوله خواه څخه تر هوايي او زميني سختو بمباردونو لاندي راغلل ، دي وحشيانه بمباردونو دا ماشومان او ميندي سره جلا، په وينو سره او کورونه يي په کنډوالو ور تبديل کړل ، ( چه دالړي اوس هم په دواړو ولسواليو کي ادامه لري ) ولي په دي وخت کښي ددي بي وزلو آواز هيڅ افغاني يا دملګرو ملتونو چارواکو نه آوريد ، دا ځکه چه په هم دې لحظو کي ټول افغاني لوړ پوړي چارواکي دخپلو کورنيو سره يعني کرزي په لومړي لمبر قصر اونور دولس بشري او اقتصادي ښکاره دښمنان دشير پور ( شير چور ) په قصرونو کښی ځيني په خوبونو او ځيني بيا په عيشونو کي غرق پراته وه ، او ډير شمير يي بيا د دې ناورينونوڅخه لذت هم اخيست ، داځکه چه دوي په دې ارمان دي ، هر څونه چه په دې وطن کښی د يرغلي لښکرو له خواه څخه پر ولس باندي بشري جنايات تر سره کيږي ، په هم هغه اندازه به د يرغلي ځواکونو شتون ته نور هم شرايط آماده کيږي ، چه په پايله کي به ددې تحميلي واکمنانو او جنګ سالارانو نور خالي بکسونه هم په ډالرونو ډک او پر ملي شتمنيو باندي به خپل ناپاکه لاسونه نور هم را ګرځوي . او هم بايد ووايو چه ددي وحشتناکه بريد په درشل او مخکي يو شمير کورنيو د امکاناتو په لرلوسره يوازي خپل ځانونه ومرکز اونورو سيمو ته رسولي ولي دژوند نور اړين توکي هلته ځيني پاته سول . او بيا به دسنګين او

موسي قلا دولسواليو دغريبو خلګو په څير په يوه او بل ځاي کي په سختي خپل ژوند مخ ته بيايي ، لکه دکرزي تر ږيري لاندي دکابل په چاراهي قمبر کي دهم دې ولسواليو نيژدي زر کورني چه ناټويي جنګ ځپلي دي ، او نن دهيڅ نوع انساني امکاناتو لرونکي نه دي ، او په ډيرو سختيو سره خپل ژوند مخ ته بيايي ٠ چه دانو په واقعيت کښي دامريکا او ناټويي يرغلي واکمنانو له پاره دشرم څخه ډک لوي داغ دي ، ولي بيا هم دوي هيڅ نوع انساني شرم او حيا نه لري ٠

ولي زموږ په ګران وطن کښي دې وحشيانه بريدونو او دولس بي ساري مقاومتونو دا ښکاره په ګوته کړل ، چه دولسونو په مقابل کي دريدل ددې معني لري ، لکه د ډبري سره چه سري سر وهي ٠ ځکه نو ځيني يرغلي وحشيانه بريدونه ، د ولس دکوچني مقاومت په مقابل کي هم عا جزه پاتيږي ٠ ګر چه دنړي په تاريخ کښی داسي بريدونه په ډيره آماده ګي پيل کيږي ، ولي بياهم دناکامي تاريخي کندي ته لويږي ٠ چه ددې آماده ګيو ښه مثال دمارجي پر ولس باندي دامريکايي او ناټويي قواوو اوسني بي ساري بريد دي ٠ چه دځينو جمعي رسنيو په حواله دسلو څخه بيا تر څلورو سوو لڅو پښنو طالبانو په وړاندي نه يوازي امريکايي ، ناټويي ١٥ زره کسيز ه مجهز پوځ ، د٦٠ چورلکو ، يو شمير جيټ الوتکو ، ډير شمير ټانکونو ، توپونو او نورو خفيفو سلاحو په درلودلو سره يو شميرافغاني اردو ، پوليسو اونور امنيتي چا رواکي هم شموليت لري ٠ او داسي ويل کيږي چه ددې اتو کالو په امريکايي اشغال کښي دطالبانو په وړاندي دالومړني ستر او په هر اړخيزه مجهزو عصري بشر وژني سلاحو سمبال بريد دي ٠ چه دا نو په واقعيت کښي ډير دتعجب ځاي دي چه آيا ددې کوچني ولسوالي نيول کوم ځانګړي اهميت لري؟ آيا ددې ولسوالي دبي ګناه انسانانو وژنه دامريکايي او ناټويي واکمنانو وجدان نه لړزوي ؟ ولي بيا هم دد ې بي ګناه انسانانو دشهادت او اقتصادي جناياتو سره سره په ډيره سپين سترګي سره په افغانستان کي د ميشتو بهرني ځواکونو قومندان ( جنرال مک کريستل ) په يوه مرکه کښي ويلي دي چه دمارجي عمليات ددوي لپاره يو نوي امتحان دي ٠

څونه دبشري احساس څخه ليري خر ګندونه ده ، چه هلته په مارجه کښي ددوي د وحشيانه بريد په نتيجه کښي پاک او بي ګناه ما شومان ، ښځي ، زاړه او ځوانان په شهادت رسيږي او د دوي د ژوند هر څه ځيني اخستل کيږي ، ولي دابي احساسه ناټويي قومندان دالوي بشري ناورين دځان له پاره يو امتحان بولي ٠اوس نو داسي سوال پيدا کيږي !

چه څه سول دبشر دحقوقو جهاني مدافعين چه مرکزونه يي په نيو يارک او لندن کي قرار لري ؟ چه نن دهم دغو هيوادونو دواکمنانو دحکمونو سره سم په دې وطن کښي داسي ړانده جنګي عمليات مخ ته ځي ، چه وشاته ډيري داسي بي ساري بشري او اقتصادي جناياتوڅخه ډکي پيښي پريږدي ، چه په نړي کښي يي دڅو لسيزوراهيسي مثال نه دي ليدل سوي ، داځکه چه امريکايي او ناټويي ځواکونه د ممنوعه يورانيمي او کيمياوي سلاحو څخه هم استفاده کوي ٠ واقعيت خو دادي چه دزور واکو په وړاندي داقتصادي ملحوظاتو له کبله ټولو دبشري حقوقو ادارو خپلي خولي پټي نيولي ، او پر دې لاس تړلي ولس باندي يي خارجي او داخلي ليوان را خوشي کړي دي ، اودملګرو ملتونو اداره به هم ددې ولس په وړاندي دحقوقي محکوميت څخه ليري پاته نه سي ٠

ولي بايد ووايو چه افغان ولس دامريکا دموکراټ جمهوررئيس څخه دنووبريدونو او جنګونو هيله نه درلو دل ، او په دې فکر کي وه چه داوبا ما په راتګ سره به په افغانستان کي دجنګ ځاي يوه سرتاسري صلح ونيسي ٠ ولي دافغان دولس دهيلو بر عکس په دې زوريدلي وطن کي جنګونو نور هم شدت وموند ، چه په پايله کي يي ورځ په ورځ بشري او اقتصادي جنايت ډيريږي ، او خلک هم نا هيله کيږي ، ځکه نو پر ځاي خبره ده چه :

دکاناډا دتورنټو سن د٦ــ ١٢ ــ ٢٠٠٩ په ورځپانه کی يو پخواني ژور نالست اوليکوال دخپلي ليکني يوه برخه يي رانقل کړم او داسي يي ليکلي دي :

دادحيراني وړ خبره نه ده چه ډير خفه ډموكراټان اوس اوباما د( جورج بوش دريمه دوره ) بولي ۰

او په آخر كي  بايد ووايو  چه په افغا نستان كي دبوش داحمقانه سياست څخه پاته يرغلي جنگ ،وهغه چلونكي ته ورته دي كوم  چه پر يو طرفه جاده باندي روان وي ، نو هر څونه چه دا چلوونكي مخ ته ځي  په هغه اندازه به ځان دتباهي وكندي ته نيژدي كوي ، نو ښه به يي داوي چه ژر تر ژره وشا تگ ته لاره خلاصه ، او خپل تا توبي ته ځان ورسوي ۰

ومن الله توفيق